# شریعت

په اوونۍ کې دوه ځله خپرېږي

د افغانستان اسلامي امارت مرکزي نشراتي ارګان

د تأسيس کال ۱۳۷٤ هـ.ش/ دوهم پړاو / (۱۱۰) ګڼه / پنجشنبه ۲۱ جمادی الاول ۱٤٤٤ هـ.ق/ ۲٤ قوس ۱٤۰۱ هـ.ش / ۱۵ دسمبر ۲۰۲۲ ميلادي


**د خپرونو چارو معين:**

## خلکو ته د مؤثقو معلوماتو ورکول د ولس او دولت ترمنځ غبنتلی باور رامنځته کوي

شريعت: د اطلاعاتــو او فرهنګ وزارت د خپرونــو چــارو معين مهاجــر فراهــي اطلاعاتــو ته د لاسرسي کمېســيون پــه لومړنۍ غونډه کي اطلاعاتو ته لاسرســی د ملت حق ياد کړ او زياته يې کړه چې مؤثق معلومات کولای شي، د ولس او دولت ترمنځ باور نور هم غبنتلی کړي.

په يــاده غونډه کې د افغانســتان اسلامي امارت ويأند مولوي ذبيح الله مجاهد، مرستيال ويائد بلال کريمــي، د وزارتونو ويانديانو او ازادو خبريالانو هم ګډون درلود.

اطلاعاتو ته د لاسرسي رياســت مشر هدايت الله هدايت په غونډه کــې د رياســت پر مســؤليتونو، اطلاعاتو تــه د لاسرسي پر اړتيا او اهميت وغږيد او ژمنتيا يې څرګنده کړه چې ياد رياســت بــه د خپلو مسؤليتونو په تر سره کولو کې هيڅ راز هڅې ونه سپموي.

د اطلاعاتــو او فرهنــګ وزارت د خپرونو چارو معين مهاجر فراهي اطلاعاتو ته لاسرسی د ملت حق ياد کړ او تينګار يې وکړ چې مؤثق معلومات د ولس او امارت ترمنځ غبنتلی باور رامنځته کولی شي.

په همدې حال کې د افغانســتان اســلامي امارت د وياند مرستيال بــلال کريمــي پــر وياندويانو، اطلاعاتو ته د لاسرسي... ۷مخ

## آغاز کار بازسازی شاهراه قندهار - هرات



شريعت: کار بازسازی ٦٥ کیلومتر شاهراه قندهار- هرات روز گذشته آغاز گردید. وزارت فواید عامه می‌گوید که شاهراه قندهار - هرات به طول ٦٥ کیلومتر،از باغ پل قندهار تا حدودات هلمند، بازسازی می‌شود.مولوی حبیب الرحمن آغا مشاور حقوقی وزارت فواید عامه به خبرنگار محلی آژانس باختر گفت که شاهراه قندهار - هرات بسیار تخریب شده و مردم را با مشکلات زیادی مواجه کرده است، به همین اساس، وزارت فواید عامه، کار بازسازی این شاهراه را آغاز نمود.

از سویی هم انجینیر شیر حسن خوشیوال مسؤول پروژۀ مذکور می‌گوید که این پروژه شامل احداث پل و پلچک به همراه تمامی نقاط تخریب شده سرک است که به گفتۀ وی به شکل اساسی و بسیار سریع ساخته می‌شود.قابل ذکر است که تمام هزینۀ ساخت این سرک از بودجه وزارت فواید عامه پرداخت می‌شود.

# د آمو سیند د تخریباتو مخنیوي په موخه د کابینې له خوا یو پلاوی وټاکل شو



شريعت: د رييس الوزرا ملا محمد حسن آخند په مشرۍ د افغانستان اسلامي امارت کابينې په اوولسمه غونډه کې د آمو سيند د تخريباتو د مخنيوي اړوند د طرحې جوړېدو په موخه پلاوی وټاکل شو.

په دې غونډه کې د کرنې، اوبو لګولو او مالدارۍ وزارت په مشرۍ، د اوبو او انرژۍ، د طبيعي پېښو پر وړاندې د مبارزې، د سرحدونو، قومونو او قبايلو چارو، د کانونو او پټروليم وزارتونو او د احصايې او معلوماتو ملي ادارې په ګډون پلاوي ته دنده سپارل شوې، چې د آمو سيند د تخريباتو هر اړخيزه څېړنه وکړي او برابره شوې ... ۷مخ

## همکاری یک شرکت ترکی در ساخت و بازسازی پل‌ها با شاروالی کابل

شريعت: شرکت « ۷۷ » ترکیه در ساخت و ترمیم پل ها با شاروالی کابل همکاری می کند.

انجنیر عامر یاسر زمرک معین ساختمانی و ترانسپورت شهری شاروالی کابل، در دیدار با نمایندگان شرکت خصوصی « ۷۷ » ترکیه در رابطه به ترمیم اساسی و اعمار چندین پل جدید موتر رو، بحث کرد.

در این دیدار معین شاروالی... ۷مخ

## د نويو افغان بانک‌نوټونو بله کڅوړه راتلونکې مياشت کابل ته رارسېږي



د افغانســتان د مرکزي بانک د عالي شورا يو غړی شــاه محمد محرابي وايــي چې نوي چاپ شــوي بانک نوټونــه به د مناســبې تــګلارې پر بنســټ بازار ته وړاندې شي او دغه بانک‌نوټونه به د افغانيو پر ارزښــت اغېز ونه کــړي. نوموړی وايي، چې د افغانيو بانــک نوټونو بله کڅوړه به د ۲۰۲۳ م کال په جنورۍ مياشــت کې افغانستان ته راورسېږي. بل خوا، د کابل ښار اوسېدونکي وايي، چې زړو بانک نوټونو يې ستونزې زياتې کړې دي. دوی له ... ۷مخ

## افغان او ايراني پانګوال افغانستان کې توليدي فابريکې فعالوي



د رياســت الوزراء سياسي مرستيال د افغان او ايراني ســوداګرو له هغه ګډ پلاوي ســره ليدلــي، چې وايي په افغانســتان کــې د ۱۰۰ ميليونو ډالرو په ابتدايي پانګې ګڼې توليدي فابريکې فعالوي. د مولوي عبدالکبير دفتر وايي يادو سوداګرو زياته کړې، چې د وخــت په تېرېدو بــه دوی د خپلې پانګې کچه نــوره هم لوړه او ګڼو افغانانو ته بــه د کار زمينه برابره کړي. د ســرچينې په وينا دوی زياته کړې، چې په تېر نظــام کې يې هم په افغانستان کې کار او فعاليت پيل کړی و، خو د فســاد او د دولت د نه همکارۍ له کبله يــې خپل کارونه ودرول. ايرانــي ســوداګرو ويلــي، غواړي له افغان سوداګرو... ۷مخ

## افتتاح تاسیسات جدید بخش معافیت کتله‌یی ریاست صحت عامه ننگرهار

شریعة: تاسیسات جدید بخش معافیت کتله‌یی ریاست صحت عامه ننگرهار گشایش یافت.

ساختمان جدید معافیت کتله یی ریاست صحت عامه ننگرهار به کمک مالی صندوق حمایت از کودکان سازمان ملل، به هزینۀ بیست و چهار میلیون افغانی ساخته شده است.

داکتر قلندرعباد سرپرست وزارت صحت عامه در مراسم ... ص۷

## د بشري مرستو يوه ۴۰ ميليون ډالري کڅوړه کابل ته راورسېده



شــريعت: د افغانســتان بانک په يوه خبرپانه کې، کابل تــه د ۴۰ ميليونو امريکايي ډالرو بشــري مرســتو د را رسېدو خبر ورکړی دی.

پــه خبرپانه کــې ويل شــوي دي: افغانستان ته د بشري مرستو په لړ کې، پرون ۴۰ ميليونه امريکايي ډالره نغدي مرسته کابل ته راورسېده. ۷مخ

## لوګر کې پر ۳۵ جريبه ځمکه د مېوو بڼونه جوړ شول

شــريعت: د کرنــې، اوبولګولــو او مالدارۍ وزارت د «کرنيزو محصولاتو د بازار موندنې» پروګــرام (AMP) په همــکارۍ د لوګر ولايت په محمد آغې ولسوالۍ کې د ځاځکي په سيستم ســمبال د مېوو ۳۵ جريبه بڼونه جوړ شول.

د کرنې وزارت مالي او اداري مرستيال مولــوي فضل البــاري فضلي ويلي چې افغانستان مناسب اقليم لري، آن ګاونډي هېوادونه هم نه... ۷مخ

### سرمقاله

## د استخباراتي جګړې مخنيوی په استخباراتي ځواک سره ممکن دی!

د تېرو څلوېښتو کلونو په موده کې پر افغانستان د دوو سترو ځواکمنو نظامي اتحادونو وارســا او ناټو يرغل، دلته يــې مات ګوډ کېدل او بيا خوار وزار وتل پر ټولې نړۍ دا يقين ور پوخ کړ چې دا هېواد رښتيا هم د امپراتوريو هديره ده. له همدې کبله اوس له قراينو داسې ښکاري چې نور به تر ډېرې مودې پورې هيڅوک هم په ښکاره زموږ پر هېواد يرغل کولوته زړه ښــه نه کړي. خو دا چې نن ســبا هسې هم د نړۍ په لروبر کې د استخباراتي جګړې دود خورا زيات شوی، نو حتمي ده چې موږ به هم د ګڼو دښمنانو له خورا سختو استخباراتي جګړو سره مخ کېږو.

اوس به د نړۍ زياتره هېوادونه موږ سره سلام کلام او راشه درشه کوي، دلته به يې استازولۍ فعالې وي، ډيپلوماتان به يې راځي او موږ سره به يې په دوامداره توګه خبرې اتــرې روانې وي، خو بل لورته به همدغه هېوادونــه اجرتي قاتلان راليږي، روزنــه او پالنه به يې کوي، پلانونه به ورته جوړوي او موږ پسې به خطرناک دروغجن پروپاګند کې شپه ورځ مصروف وي. البته دهغوی د بشري مرستو نارې سورې او ډيپلوماتيکي روابط به يقينا يوازې او يوازې زموږ د غافل کولو او دوکه کولو لپاره وي، څو د هغوی معاندانه کړنوته متوجه نه شو او د مخنيوي لپاره يې مناسب ګامونه وانه خلو. په دې اســاس لازمه ده چې د همدغســې يولوی او خطرناک استخباراتي جنګ لپاره موږ هم تر خپلې وسې ضروري تدابير ونيسو، مشــورې وکړو او د مقابلې لپاره يې اغېزمن پلانونه وسنجوو.

ښــکاره ده چې په دې جګړه کې نه لس ګونه زره عسکر او جنګيالي په کار دي، نه ډېرې پرمختللې الوتکې، توغندي او توپونه او نه پخې تانې او محکمې چونۍ ګانــې ضروري دي، بلکې په دغه خطرناکه جګړه کې هرڅېرته د پټو کســانو ګمارنه، شکمنو ډلوکې د نفوذي اشخاصو ننوېســتل، له مختلفو طبقاتو سره ژورې اړيکې پالــل او له هغوی نه مطلوب معلومات راغونډول په کار دي. البته معلومه ده چې ددغه ډول پروسې د پرمختګ لپاره هم د يوغټ شمېر هوښيارو او... ۲مخ

**اسلامي امارت افغانستان کې د خبرو اترو يوازېنۍ مرجع ده** ۲مخ

**رسول الله «ص» له کومو شيانو پناه غوښتې ده؟** ۳مخ

**د شرعي حدودو ارزښت** ٤ مخ

## پنجشير او بدخشان کې نږدې ۸۰۰ کيلوګرامه نشه يي توکي کشف او ضبط شول

د پنجشــېر او بدخشــان امنيتي مســوولين وايــي، چې پــه دغه ولايتونــو کــې يې نــږدې ۸۰۰ کيلوګرامه نشه يي توکي کشف او ترلاسه کړي دي.

د پنجشــېر د امنيې قومندانۍ له نشه يي توکو سره د مبارزې مدير حرمت الله باختر آژانس ته وويل، چــې د دغه ولايت پــه مرکز کې امنيتي ځواکونو په يوه سوزکي ډوله موټر ځای پرځای شوي...۷مخ

## بلخ کې د ۸،۵ ميليونو افغانيو په لګښت يو ستر پُل ګټې اخيستنې ته وسپارل شو



د بلــخ ســيمه ييز مســوولين وايي چــې د دغه ولايت د چهاربولک او چمتال ولسوالۍ ترمنځ يو ستر پُل د ۸،۵ ميليونو افغانيو په لګښت ګټې اخيستنې ته وسپارل شو.

د بلخ د مقام د دفتر... ۷مخ

## ننګرهار کې د ٦ ميليونه افغانيو په لګښت يوه پروژه بشپړه شوه



شريعت: په ننګرهار کې د څه د پاسه ۶ ميليونو افغانيو په لګښت يو کانال او سربند ګټې اخســتنې ته وسپارل شول

د ننګرهــار د کرنــې، اوبولګولو او مالدارۍ رياســت مســوولين وايي په دغه ولايت کې د څه د پاســه ۶ ميليونو افغانيو په لګښــت يو کانال او ســربند ګټې اخيستنې ته وسپارل شول. د ننګرهار د کرنې، اوبولګولو او مالدارۍ رئيس مولوي... ۷مخ

## افتتاح یک مکتب در شهرک مهاجرین بنی ورسک ولسوالی بگرام



شــریعت: مکتب نسوان شهرک مهاجریــن بنی ورســک بگــرام با حضورداشت سرپرست وزارت امور مهاجرین و عودت کنندگان گشایش یافت.

الحــاج خلیــل الرحمــن حقانی، سرپرســت وزارت امور مهاجرین وعودت کننده گان، در... ص۷

## کابل کې د قرآنکريم د حفظ او تلاوت ۱۱ دوره پای ته ورسېده

شريعت: د قرآن کريم نړيوالو سياليو تــه د غــوره حافظانــو د پېژندلو او معلومولو په موخه د هېواد په کچه د قرآن کريم د حفظ او تجويد يوولسم پړاو سيالۍ، چې څه موده وړاندې د کابل ښــار په نواحيو او په ټول هېواد کــې پيل شــوې وې پــرون پای ته ورسيدې.

په دې مناســبت جوړه شوې غونډه کې د ارشــاد، حــج او اوقافو وزير محترم شــيخ الحديــث دکتور نور محمد ثاقب د قــران کريم د حفظ او تجويد د ملي سياليو د يوولسمې دورې په تړاو د وينــا پر مهال زياته کــړه: زموږ ننۍ غونــډه د هېواد په کچه د يادې سيالۍ ... ۷مخ

## کندهار کې د يوه سړک د قير اچولو چارې پيل شوې

شــريعت: د کندهــار د ښــاروالۍ مســوولين وايي، چې د دغه ولايت د ښــار ۱۵ ناحيې په اڅکزو کلاچه ســيمه کې د UNOPS موسســې په مرســته پر ۴۴۰ متره سړک د قير اچولو چارې پيل شوې دي. ۷مخ

# زما نظر دا دی

**سالمزی**

زمـا نظر دا دی چې زموږ په ګران او محبوب هیواد کې د یوې پیړۍ په لړ کې د دریو سـترو امپراطوریو ماتیدل او د اشـغالګرو څخه د خپلواکۍ بیرته ترلاسـه کول د چاله لوري ډالۍ نه بلکې دا د مؤمینو او میړنیـو مجاهدینو د اسـلام او هیواد سره د بـې کچې مینې او قربانیو پایله وه چې د پنځلسـمې پیړۍ یوه حیرانوونکې معجزه یې ګڼلی شو. دلته د اسـلام لپاره میلیونونو انسانانو خپل سرونه نذرانه کړل او د نړۍ د سـترو فرعوني ځواکونو په وړاندې یې خپلې سینې سـپر کړلې چې د یرغلګرو فولادي ټانکونـو او طیاروته یې د خپلو غوښـو په انفلاق ماته ورکړه، اسـلامي نظام د هـر مؤمین افغان او مجاهــد د زړه غږ دی او دا غږ باید نړۍ هم له موږ سره بدرګه کړي او هر هغه مغرض هیوادونه او حلقې چې پدې لارکې سـتونزې او خنډونه زیږوي باید زموږ ملـت یې پروړاندې یو موټی شي او پرې نـږدي چې یو ځل بیا زموږ د زرګونو شـهیدانو، کونډو، یتیمانو او مجاهدینـو په ارمان لوبې وشي، زما دا نظر دی چې اسـلامي نظام د هر مجاهد افغان او مجاهدې افغانې خور وروسـتۍ هیله ده. زما دا نظـر دی چې که موږ غواړو لـه پرمختللې نړۍ سره خپل ځان د سـیالۍ جوګه کړونو له تعلیم او تعلم پرته بله لارنلرو، د قرآن کریم لـه لومړنۍ ومې ولوله څخه څرګندیږي چـې علم په هر نارینه او ښځه فرض دی او یا دا چې علم زده کړه که څه هم په چین کې وي، اوس چــې دواک واګې د ملت ترټولو غوره قشر د انبیا وو د وارثینو یعنی دیني علمای کرامو پلاس کې دي او دوی له بل هرچا د تعلیم او تعلم په قدر ښـه پوهیږي پکار ده چې د خپل راتلونکي نسـل د ښـې او سـالمې روزنې په برخه کې تر نورو ډیـر اغیزمن او ګټور قدمونـه پورته کړی او زموږ دغیرتي او مجاهد ملت دغه اندیښـنې تـه د پای ټکی کیږ دي او د بسـوګۍ دغـه واده پخیر پای ومومي. زما دا نظر دی چې زموږ چارواکي د ملت دغه غوښـتنې ته مثبت او ګټـور ځواب ووایي. زما یو نظر دا هم دی که چیري زموږ واکمن د وارداتي بریښـنا پر ځای پخپلو سر شاره سیندونو د بریښنا بندونو د جوړولو چارې لـه نورو عارضي پروژو رامخې ته کړي چې یواځې د کونړ پرسـیند د سره طاق په سـیمه کې چې د شهید سردار محمد داود خان د واکمنۍ پر مهال یې سروې تر سره شـوې وه د هیواد په پرمختګ او اقتصادي پیاوړتیا کې مهم او ټاکونکی رول لوبولی شي چې په جوړولو سره به یې د هیواد په کچه بریښـنایي ستونزه لمنځه تللې وي او په هیواد کې به د سـلګونو فابریکو بریښنایې اړتیا پوره او پــه زرګونو افغانانو ته به پــه هره برخه کې د کار زمینه برابره شي. زما نظر دا دی چې زموږ هیـواد یو زراعتی هیواد دی که اوبه یې په منظم شـکل تنظیـم او مدیریت او په صحیح ډول د هیواد شـاړې خړوب شي، یواځې د هلمنـد ځمکې د ټول هیواد زراعتي اړتیاوي پـوره کولی شي. زما دا نظر دی چې زموږ ګـران او محبوب هیواد افغانسـتان یو غرنی او د طبیعـي زیرمو ډک هیواد دی خو چې موږ خپل مسـلکی ماهرین نلرو دا یوه تشـه ده، پکار ده چې موږ خپل مسـلکی ماهرین په هره برخه کې ښه تربیه او وروزو او همدا رنګه په نورو هیوادونو کې افغان ماهرین تشـویق کړو تر څو د هغوی له فکري او علمي استعدادونو څخه د خپلو طبیعي ذخایرو په را سپړنه کې ګټه واخلو او بهرنیو مرستوته اړنشو او پخپلو پښو ودریږو. هیله ده کـه زما په نظر څوک نظر اونیو که لـرۍ او یا پدې اړه خپل نظر څرګندوۍ خپـل وړاندیز دی په لیکلې بڼـه د شریعت ادارې ته را واستاوی. د یوه خپلواک سرلوړي او سمسور افغانستان په هیله.

# د استخباراتي جګړې مخنيوی په...

ځیرکو اشـخاصو روزنه لازمه ده او هم یې تر خپله حده تمویل، تجهیز او تنظیم.

دا لاځـه چې د یاد هدف ترلاسـه کولو او رواني اسـتخباراتي جګړې کنټرولولـو لپاره اړینـه ده چې زموږ د نظامـي تعلیماتو په نصاب کې د نړۍ د عصري جاسوسي کتابونو ژوره مطالعه او تدریس هم شامل او له ګردو استخباراتي تکیتکونو سره هم ځانونه ښه بلد کړو. ځکه ښکاره ده چې دغه روانه جګړه ښـایي تر ډیرو کلونو اوږده او یا هیڅ وخت پای ته ونه رسـیږي. وجه داده چې طبعاً زموږ د هېواد بې ثباتۍ کې هم د ځینو هېوادونو ګټې نغښـتې دي، نو کله چې په میداني جګړه کې یې د مال او متو زور اوبه شـو، پټه استخباراتي جګړه چې په مراتبو ورته اسانه، ارزانه او بې خطره ده هیڅکله به لاس ترې وانه خلي. بناءً ثابته شوه چې اوس پرته له شـکه د همدغه شـان جګړې نوبت دی او د همدغې اسانۍ او ارزانۍ له امله به یې ترهغه راسره اوږده کړي څو چې موږ د هغوی ټولې ګټې خوندي کړې او فرمایشات منلي نه وي. په دې لړ کې د هغوی شل کلنې خوارۍ او لګښتونه او پرهغوی باندې افسوس او حسرتونه لایوبل عامل دی چې ارام ته یې نه پریږدي او د پرله پسې مداخلو روحیه او جذبه ورکوي. لنډه دا چې زموږ پر وړاندې دغه شیطاني جګړه خورا ډېره اوږده ښکاري نو بویه چې واکمن مسؤلین هم د واک و اقتدار له نشې را بیدار او ددغې پېچلې مقابلې لپاره د هېواد تجربه کارو، هوښیارو اوسپین ږیرو مشرانو په مشـوره پر اړینو اقداماتو او تدابیـرو لاس پورې کړي. د قادر خدای د مرستې او توفیق په هیله.

# اسلامي امارت افغانستان کې د خبرو اترو يوازنۍ مرجع ده

**تبصره- آژانس باختر**

د نـاروې د بهرنیـو چارو وزیرې پـه افغانسـتان کې له اسـلامي امارت سـره تعامل او خبرو اترو د دوام غوښتنه کړې ده.

د باختـر آژانس مبصر لیکي: د ناروې د بهرنیو چارو وزیره آنیکېـن هویتفیلد وایي چې هېواد به یې په افغانسـتان کې له سرپرسـت حکومت سـره تعامل ته دوام ورکړي او له خبرو اترو پرته په افغانسـتان کې له موجود نظام سـره بله لاره شتون نه لري.

هغې پـر دې ټینګار کړی، چې په افغانسـتان کې د خبرو اترو لپاره له اسـلامي امارت پرته بل هېڅ بدیل شـتون نه لري او موږ اړتیا لرو له هغوی سـره خبرې اترې وکړو.

د سیاسـي کارپوهانو پـه باور د نـاروې د بهرنیو چارو د وزیرې څرګندونې په افغانسـتان کې پـه واقعیتونو اعتراف دی یعنـې اسـلامي امارت په افغانسـتان کـې یو عیني واقعیت دی او کـه چېرې د دغه هېواد پـه اړه کومه خبره وي، د خبرو اتـرو لپاره یوازېنۍ مرجع په افغانسـتان کې اسلامي امارت دی.

دغه څرګندونې کولای شي په افغانسـتان کې له اسلامي امارت سـره د تعامل مفکوره پیاوړې کړي او دغه نظام په افغانستان کې د اغیزمن او تصمیم نیوونکي مرجع په توګه ومنل شي.

مخکـې له دې هم یو شـمېر نـور هېوادونو له اسـلامي امارت سـره د تعامل او خبرو اترو غوښتنه کړې وه او دغه غوښتنه په هغه نړیواله غونډه کې، چې څه موده مخکې په ازبکستان کې جوړه شوه هم مطرح شوې وه.

د دغې غونډې برخه والو له اسـلامي امارت سره پر تعامل او خبرو ټینګار درلود.

په امریکا کې یو قطري دیپلومات په یوه یادابښـت کې چې د والسـتریت ژورنال په واک کې ورکړی و، د افغانستان له اسـلامي امارت سـره د قطر د دوحې تعامل دفاع وکړه او ټینګار یې کړی و چې په افغانسـتان کې لـه موجود نظام سـره تعامل د دغه هېواد د خلکو د ژوند د ښـه والي لپاره ضروري دی، په داسـې حال کې چې د تعامل نشتوالی به د بېوزلۍ او نورو سـتونزو د پراختیا لامل شي.

په واشـنګټن کې د قطر سـفارت مطبوعاتي مسوول علي الانصاري ویلي چې له اسـلامي امارت سره نه تعامل د افغانسـتان د خلکو د هېرولو په مانا ده.

دغه څرګندونې د دې ښـکارندویي کوي، چې د اسلامي امـارت او نړۍ ترمنـځ د تفاهم مفکوره چې د اسـلامي امارت له خوا مطرح شـوې ده د پیاوړتیا په حال کې ده او زیات هېوادونه اسلامي امارت په افغانستان کې د تصمیم نیولـو یوازېنۍ مرجع بولي او که چېرې د دغه هېواد د نظام په اړه کومه خبره ولري د خپلې پوښتنې د ځواب د ترلاسه کولو لپاره په افغانسـتان کې اسلامي امارت بولي.

اسـلامي امارت د ناروې د بهرنیو چارو د وزیرې وروستي دریځ هرکلی کړی او د اسـلامي امارت ویاند هم په خپل وار ټینـګار کـړی دی چـې د تعامل په افغانسـتان کې د سـتونزو د له منځه وړلو لپاره یوازینی لاره ده.

د افغانستان اسـلامي امارت سره تعامل د ستاینې وړ دی ځکـه پایله یې پرمختـګ او د اړیکو دوام دی چې ګټه یې ټولو ته رسېږي.

# هيواد کې د بڼوالۍ چارو ودې ته پاملرنه د قدر وړ ده

**شاه محمود درويش**

د افغانسـتان کابـو اتیـا سـلنه خلـک په ټولیـزه توګه پرکرنیـزو چـارو بوخت دي ، خـو داوبو،سـربندونو، کانالونـو اوپرمختللو کرنیزو وسـایلو دکموالي له امله تـردې دمـه نـه دی توانیدلی چـې دغلو دانو لـه پلوه داهیـواد پرځان بسـیاکړي ، بنا ددې لپـاره چې دهیواد په سـلو کی کابو اتیا سـلنه خلک دکرنی ، مالداری او بڼوالــی په چارو بوخت دی نوپـه کارده چی ددغه بهیر ودی اوپراختیـا ته باید ډیره پاملرنه وشـی ځکه چې په هیواد کـی د کرنې او بڼوالۍ بهیـر پراختیا یولومړیتوب دی او دافغانسـتان اسلامی امارت د مسوولو ارګانونو له لوری باید دهیواد په مرکـز او ولایتونوکی قدرمن بڼوالو اوبزګرانو ته دهراړخیزو آسـانتیاوو په برابرولو سـربیره په مناسـبو وختونو کی د ډول ډول میـوه لرونکو نیالګیو ،اصلاح شـویو تخمونو او کیمیاوی سری مرستی وشی ترهغه چـی له امله یـی دوئ له خپلـی کرکیلی څخه پریمانـه حاصلات ، غلی او دانی ترلاسـه کړی چی له املـه یی د دوئ د اړتیاوو د پوره کیدلو ترڅنګ په هیواد کـی هم غلـی دانی او ډول ډول بـا کیفیته تـازه میوې پریمانه شـی او په مناسـبو وختونو کې د ګران هیواد له ښـارونو بهر د بهرنیو هیوادونو مارکیټونو ته هم وړاندې شـي ترهغه چې له امله يې د قدرمنـو بڼوالو او بزګرانو د اقتصـادی بډاینـې ترڅنګ د هیواد پـه اقتصادي وده کې هـم مثبتې اغیزې پرځـای پریږدي ، دافغانسـتان اسـلامي امارت د لومړیتوبونو پراسـاس اړینه ده چی په ټولیـزه توګه د هیـواد په ګوټ ګوټ کی پـر قدرمنو کروندګرو په مناسـبو وختونو کی اصلاح شوی تخمونه ، ډول ډول نیالګی ، کیمیاوی سـری اولازم وسـایل د اړوندو مسـئولو مراجعو له لوری وویشـل شـی ، ځکه چی له قدرمنو بزګرانو سـره هرراز مرسـته ددی سـبب کیږی چـی په ټولیـزه توګه د هیواد کرنیز سـکتور وده او پراختیا وکړي.

البتـه دې ټکي تـه موباید پام وي چې ګران افغانسـتان دخپل ښـه جغرافیایي موقعیـت اودخدای (ج) ورکړیو ډول ډول کاني زیرمـو د موجودیت ترڅنـګ دپریمانه طبیعي اوبو دشـتون اود یوښه بشـری ځواک د درلودو له پلوه له شـک پرته چې بډایه هیواد دی او په دې برخه کې دلازمو امکاناتو د نه شـتون لـه کبله دهیواد بزګران ، بڼوال او مالدارله یولړ سـتونزو سـره مخامخ دي چې ددغې برخې د پرمختګ او غوړیدا له پاره دقدرمنو سـو داګرو او پانګه والـو هراړخیزې پانګونې تـه ډیره اړتیا لیـدل کیږي اوپه دې برخه کې د افغانسـتان اسـلامی امارت او ښـاغلو پانګوالو پاملرنه حتمي او ضروري ده ، دیادونی وړده چې په دې وروسـتیو کې په هیواد کې د دله ییزو خپرندویه سـرچینو په حوالـه دننګرهارولایت دکانال ریاسـت د مسـوولینو له قوله داسـې ویل شوي دي: چـې د ۴ لسـیزو وروسـته د کابـو ۷۰ میلیونه په لګښـت د هـډې فارم شـیږم بلاک په شـاوخوا ۳۰۰ جریبه ځمکې کـې د مالټو بڼونه او د اوبخور د څاڅکو سیستم جوړیږي.

د یاد بلاک ( ۱۳۴، ۱۳۵، ۱۳۶، ۱۳۸) نمره ځمکو کې به ۲۶ زره د مالټو بوټي وکرل شـي ، سمسوره او په شنې ساحې به بدله شي.

د اټـکل لـه مخـې ۱۷ میلیونـه افغانۍ پرې لګښـت راځـي او کابو ۳۰۰ تنو ته به دکار زمینه برابره شـي ، د ننګرهار کانال ریاسـت مسوولینو هم ویلي چې د کرنې د میکانیـزه کولـو کومې ژمنې مو چـې د خپل ولس او هېوادوالو سـره کړې دي یو په بل پسـې د عملي کیدو په درشـل کې دي ، ښـه بیلګه یـې ۳۰۰ جریبه ځمکه ده چې پرې بـه دمالټې باغونـه او د اوبخور د څاڅکو سیسـتم جوړ او تطبیق شي.

له شـک پرته چـې په هیـواد کې د بڼوالــۍ د چارو د ودې له پاره د پروژو د پلـي کیدلو په موخه هر اقدام د قـدر وړ دي او افغان ولس هـم دننګرهارولایت دکانال ریاسـت د مسـوولینو له لورې د هډې فارم شپږم بلاک په شـاوخوا ۳۰۰ جریبه ځمکې کــې د مالټو بڼونه او د اوبخور د څاڅکو سیسـتم دجوړیدو یاد اقدام ستایي او په ښــه ډول دچارو د تحقق هیله یې لري، ددې ترڅنګ پــه ټولیزه توګه پــه هیواد کــې د کرنیز بهیـر پراختیا او مدرنیزه کـول په حقیقـت کې یـو لومړیتوب دی او د افغانسـتان د اسلامي امارت مشـرتابه او اړوند مسوول چارواکـي هم دهیـواد د کرنـې د پراختیـا او مدرنیزه کولـو په برخه کـې باید لازم پروګرامونـه طرحه اوپلی کړی اوپـه دی موخه د کورنیـو پانګه والـو ترڅنګ د نړۍ دمرسـتندویو هیوادونو(په ځانګړې توګه اسـلامي هیوادونـو) او خیریه بنسـټونو هراړخیزې مرسـتې هم راجلـب اودیوسـالم او منظـم پروګـرام لـه مخې یې دهیواد دکرنـې ، مالدارۍ او بڼوالۍ دچـارو په پراختیا او مدرنیـزه کولـو او په هیواد کې دموجودو اوبو دښـه مدیریت کولـو پرچارو ولګوی چی پرمـټ یې له یوې خوا دخلکـو دبوختیا اوله بلې خـوا دهیواد د اقتصاد پرمختـک له باره زمینه برابره شـي ، همداشـان لازمه ده چې د اسـلامی امـارت له لـورې د کرنیـز بهیر د پراختیا ترڅنـګ د هیواد د موجودو اوبو ښـه مدیریت ته هم لازمه پاملرنه وشـي یعنې له اړتیا او لومړیتوبونو سـره سـره په دې برخه کې لنډمهالی ، منـځ مهالی او اوږدمهالی پروګرامونه جوړ شـي چـې د هیواد په کرنیز سـکتوراو په ټولیزه توګـه د هیواد د اقتصادي بنسـټونو د پیاوړتیـا په برخه کې ښـې پایلې راونغـاړي ، البته دا واقعیـت دی چـې د افغانسـتان کابو اتیا سـلنه خلک پرکرنیـزو چارو بوخـت دي ، خو داوبو، سـربندونو، کانالونـو اوپرمختلفـو کرنیـزو وسـایلو د کموالـي له امله نـه دی توانیدلی چـې دغلو دانو له پلـوه داهیواد پرځـان بسـیاکړي ، دیادولو وړده چې زمـوږ په هیواد کې لـه بیکاری او بـې روزګاری هغه سـتونزه ده چې ډیری هیوادوال ورسـره لاس او ګریوان دی چې ددغی سـتونزې د مخنیوی له پاره هم د افغانسـتان د اسلامی امارت مشـرتابه او اړوند مسـوول ارګانونه باید د نورو چارو ترڅنګ پـه هیواد کی دکرنې ، بڼوالۍ او مالدارۍ د سـکتور هراړخیزې ودې ته لا ډیرپام ورواړوي او هم دې په هیواد کې د موجودو اوبو دښـه مدیریت کولو په اړونـد لازم تدابیرونیسـي ، چې په ټولیـزه توګه په دغه بهیرکې ګڼ شـمیر هیوادوالو ته دهمیشـني کاراوسـالم روزګار زمینه برابره شـي او دوئ ټول په کوردننه بوخت شـي چې له امله یې د کرنیزو محصولاتـو او غلو دانو پـه برخه کی جګړه ځپلی افغانستان ډیـر ژر خود کفا اوله هره پلوه پرځان متکـی او د بهرنیو له احتیاج څخه وژغورل شي.



# بیـــرغ

**امين وردګ**

بيرغ يا بيرق چې توغ او جنډۍ هم ورته وايي – له ډېرو پخوا زمانو څخه تر اوسه د يوه نښان او سمبول په توګه کارېږي؛ که څه هم چې د پيل دقيقه نېټه يې لا سمه نه ده مشخصه شوې، خو داسې انګېرل کيږي چې د بشريت له قبيلوي تشکيلونو سره به يو ځای دود شوی وي.
پخوا به هرې قبيلې ځانګړی بيرغ لرلو، چې زياتره وخت به يې په قبيلوي جګړو کې کاراوه.
کله به چې يوه قبيله له بلې ســره د جګړې ډګر ته وتله، نو د ګڼو کســانو په لاسونو کې به يې بيرغونه ورکړي وو؛ هرې قبيلې به دا کوښــښ کولو چې بيرغونه يې تر هغې بلــې لوړ او تعداد يې هم زيات وي، دا به هم ډېره مهمه وه چې هره قبيله د خپلې جنډۍ د رنګ او نقش په انتخاب کې له پوره دقت، مهارت او ځيرکۍ څخه کار واخلي، کوښښ به يې همدا ؤ چې هم ښه رنګ انتخاب کړي او هم يې د ټوکر کيفيت لوړ وي.
کله به چې د جګړې په ډګر کې د کومې قبيلې د سردار او امير تر ټولو غټ بيرغ چپه شو، د دې معنا به د هغې قبيلې د ماتې وه! نو ځکه خو به ډېر کوښښ دا کېدلو چې بيرغ پرېنوزي.
په پخوا زمانو کې د سولې بيرغ سپين ؤ! يعنې کله به چې په جګړه کې کومې خوا سپين بيرغ پورته کړ، معنا به يې دا وه چې سوله غواړي! ځکه خو به پر سپين بيرغ ګذار هم سخت جنګي جرم ګڼل کېدلو.
دا چې ورو ورو قبيلې لويېدلې، نو به يې طبعاً قلمرو هم ورسره لويېدو، چې بيا به د پاچاهۍ نوم ورته اخيســتل کېدۀ. هرې پاچاهۍ به په خپل منځ کې (د توافق پر اساس) کولی شوی چې پخوانی بيرغ تغير، يا يې کاملاً تبديل کړي؛ خو دا کار به هغه مهال کېدلو چې کله به د پخواني بيرغ حماسي موقف صدمه وليده (ياني چې پخوانی بيرغ به د کومې قبيلې په اســارت کې راغی او د غلامۍ موقف به يې خپل کړ)خو چې کله به يادې قبيلې ملي او باوجدانه اشــخاصو استقلال واخيست، نو پخوانی بيرغ به يې تغير کړ، تر څو د دوی د قبيلې پر تندي ننګين خال جوړ نه شي. د يوې ډلې سياسي حضور او هويت به د هغې ډلې له بيرغ ســره تړلی ؤ، که به کومې ډلې بيرغ نه لرلو، نو هېڅ لوري به هغه ډله په رسميت نه پېژندله او نه به چا باور پرې کولو.
بيرغ دومره اهميت درلود چې حتی د تجارتي قافلو بيرغونه به هم د هغوی په کاروانونو کې رپاند وو، تر دې چې په ځينو سيمو کې به بعضو سپين سترګو غلو او ډاکوانو هم يو ډول بيرغ کارولو.
بيرغ ته به خلکو دومره احترام کولو لکه يوه مقدس آسماني کتاب ته، چې اوس يې هم تر ډېره حده د نړۍ په ګوټ ګوټ کې همغه عزت ساتلی دی.
په هر حال... بيرغ اوس هم پوره اهميت لري، خو افسوس چې زموږ په هېواد کې څوک بيرغ ته چندان توجه نه کوي. دلته چې هره ډله بريالۍ شي او د هېواد پلازمېنه تصرف کړي، نو تخميناً د همغې خپلې ډلې بيرغ کاروي؛ دا ځکه چې موږ منل شوی خپلواک (ملي) بيرغ نه لرو.
ځينــې خلک درې رنګه بيرغ ته ملي بيــرغ وايي، مګر هغه ملي ځکه نه دی؛ چې د دوو متجاوزو ابر قدرتونو (روس او امريکا) په وخت کې همدغه درې رنګه بيرغ (د هغوی له بيرغونو سره يو ځای) زموږ د مظلوم او محکوم ملت پر وړاندې رپېدلی، نو موږ يې په کوم دليل ملي وبولو؟
زه له درې رنګه (زرغون سور او تور) بيرغ سره شخصي دښمني نه لرم؛ خو ملاحظات مې بيا ښه ډېر پکې شته چې ځينې يې دا دي؛ پر دغه بيرغ مبين وايي چې: د دې بيرغ درې رنګونه مختلفې معناوې لري او هغه داسې:
۱- تور (يعنې تور وخت)
۲- سور (يعنې د مبارزې وخت)
۳- زرغون (يعنې د آزادي وخت)
ګواکې توره ورځ يې د سرو وينو په زور زرغونه کړې ده.
بلې! د هغه وخت مجاهدو او مبارزو افغانانو ته زموږ سلامۍ ده، خو هغه کارونه دغه بيرغ نه دي کړي او نه د ده تر چتر لاندې شوي دي. مګر دغې نکتې ته يې لا پام نه دی چې د دوی په اصلي بيرغ کې له ښۍ خوا لومړی زرغون رنګ کار شوی، بيا سور، ورپسې تور دی؛ تاسو دغه بيرغ له نږدې وګورئ او بيا يې د ښــان لوری د ځان خوا ته کړئ (چې تکبير او کلمه يې راسته شي) نو به وګورئ چې تور رنګ اول راځي که زرغون؟ که چېرې د دوی معنا ترې واخلو، نو کلمه او تکبير چپه راځي او که کلمه شريفه او تکبير مبارک سم ولوستل شي او د بيرغ مخ د ځان لوري ته کړو، نو بيا معنا د دوی د تحليل عکس او خلاف راځي.
که څه هم چې د ځينو فرعي بيرغونو پر دواړو لوريو يې ښان ترسيم کړی چې هلته بيا تکبير او کليمه راســته راځي، خو هغه بيرغ د امان الله خان ســټنډرډ يا اصلي بيرغ نه دی. په هر حال...دغه بيرغ د آزادۍ ځکه نشو بللی چې د انګرېزانو پر وړاندې يوه ورځ هم نه دی رپېدلی! دليل يې دا دی چې؛ دغه بيرغ د آزادۍ له ورځې نهه کاله وروسته (ياني په ۱۳۰۷ ه ل کال کې) د امان الله خان او د هغه د ځينو همفکرانو له خوا انتخاب شوی، خو دوی يې د لويې جرګې په نوم يادوي، چې دا هم داسې لويه جرګه !؟ وه، لکه اشرف غني چې په کابل کې جوړه کړې وه! اعضاء يې ټول د ده د فکر او په نظام کې ورسره شريک خلک وو، خو دوی نوم د لويې جرګې ورکړ.
مګر اوســنی (سپين محمدي) بيرغ بيا ډېر داسې کارونه کړي چې په ستايلو ارځي او سرې ويارړ پرې کولای شي! هغه داسې دي: لومړی خو دغه بيرغ چې ځمکه يې سپينه او په تور رنګ کليمه طيبه پرې ليکل شوې – اصل کې د اســلام بيرغ دی چې په تاريخونو کې د حضرت محمد رسول الله (صلی الله عليه و آله وســلم) جنډۍ يادېږي، نو ځکه خو د دغه بيرغ مخالفت ايمان ته هم زيان رســوولی شي. خو که يې په وروستيو کې وياړونو ته وګورو؛ نو هم يې د شوروي پر وړاندې حماسي راته ګټلې او هم د امريکا؛ همدا راز يې هغه ويارړ هم نشــو هېرولای چې د شر او فساد پر وړاندې يې د مدرسو طالبان او حافظان تر خپل ســيوري لاندې سره غونډ کړل او بيا يې په افغانستان کې اسلامي شريعت راوست. سپين بيرغ يوازې د افغانستان د سپين لښکر بيرغ نه! بلکې دا د اسلام ريښتينی سمبول دی.
دغه بيرغ تل د ديني عالمانو په لاسو کې رپېدلی او همېشه يې همدغه تر ټولو مقدس قشر (علماءکرام) تر خپل سيوري لاندې سره متحد کړي هم دي. نو بناءً! ټولو افغانانو ته پکار ده چې همداسې يوه بيرغ ته د ملي بيرغ په ســترګه وګوري؛ چې هم تل د ملت په دفاع کې رپېدلی وي، هم هېڅکله د غلام په موقف کې نه وي ښــکاره شوی او هم د فاسدو او فاحشو اقشارو (لکه آريانا سعيد او نجيبه فيض) تر پليتو بدنونو تاو شوی نه وي.
نو راشئ چې ټول ښه ژور فکر وکړو! راځئ چې دغه دواړه بيرغونه سره پرتله کړو او وګورو چې کوم يو يې ښه ځلاند تاريخ لري؟ له کوم يوه سره موږ ښه ښکارېږو او کوم يو يې له موږ سره ښه ښکارېږي ؟ د کوم يوه معنوي ارزښت لوړ دی؟ د کوم يوه ملي حماسې زياتې دي؟ کوم يو کفري نړۍ ته د تحمل او زغم وړ نه دی؟ کفر له کوم يوه څخه ترخې خاطرې لري او د کوم يوه مخالفت کوي؟ کفري نړۍ به پر خپل ځای پرېږدو! راشئ په خپله ټولنه کې يوه سرسريزه احصائيه وکړو! وګورو چې زموږ د ټولنې پاک او مجاهد قشر کوم يو بيرغ خوښوي؟ مفسد او عياش مو کوم يو خوښوي؟ چې ښه څېړنه مو وکړه، بيا بايد همغه بيرغ ملي وبولو، کوم يو چې د زياترو پاکو اقشارو خوښ شي. خو دغه سپين محمدي بيرغ ته هم بايد ډېر پام وکړو! موږ او تاسو په زياتره ځايونو کې دا ښکلی بيرغ وينو چې تک تور اوښتی وي، خو دومره څوک نشته چې پاک او يا يې نوی کړي.
د هر ارګان امير او قومندان مکلف دی چې بيرغ ته جداً توجه وکړي. بايد هېڅکله دا وياړلی اسلامي بيرغ له موږ څخه بې عزته نه شي، بايد ډېر زړښت او خيرو ته يې ورنکړو. د يوه بيرغ په نوي کولو به د هغه محل د مشر څه دنيا لاړه شي!؟ خو بيا هم ...که يې مشر بې پروا او يا ډېر مصروف وي، نو ملګري يې دې ورپام او يا دې په خپله پيسې سره ټولې او بيرغ دې پرې نوی کړي. د کابل په څلورو دروازو کې چې کوم بيرغونه رپېږي او يا د ګزمو پر موټرو نصب شوي دي– وضيعت يې بېخي د زغم وړ نه دی! هيله کوم هر ارګان دې د خپل بيرغ په ساتنه او پالنه کې پوره توجه وکړي؛ که د شيطاني مډيا ورپام شو، بيا به نو هر ځای همدغه خيرن او زوړ بيرغ راته بوخ بوخ کوي او موږ به پرې سوزوي.

# د پښتو ادب د هسک ځلانده ستوري ګل پاچا الفت

**ليکنه: راشد عظمت**

استاذ ګل پاچا اُلفت د ميرسيد پاچا زوی او د سيد فقير پاچا لمسی دی. په قوم پښتون سيد او په ۱۹۰۹م چې له ۱۲۸۸ هـ.ش ســره ســمون خوري، د لغمان د قرغه يي ولسوالۍ د عزيزخان کڅ په يوه علمي او روحاني کورنۍ کــې زېږېدلی. په ديني مدرســو او جوماتونو کې يې زده کړې کــړې دي. يعنی فقه، عقائد، قرآن کريم، تفســير، حديث شريف، صرف، نحو، منطق، معاني او نور علوم يې ولوستل (زده کړل). نوموړی (په اصطلاح) اکاډيميک درسونه نه و لوســتلي، ولې له ډېرو اکاډيميکو اشخاصو څخه خورا پوه او ماهر و. ځانګړی استعداد يې درلود چې په اساس يې لوړو پوړيو ته ورسېد. په پښتو دري او عربي يې ليکنې کولې.
استاذ اُلفت د لوړې کچې ژبارن و، ډېرې ژباړې يې کړې دي. همداشان يو پياوړی ليکوال او شاعر هم و، چې ډېر اشــعار يې ويلي او ډېرې پوهنيزې، روزنيزې، ټولنيزې او سياســي ليکنې يې کښلې دي. د خپل هېواد او هېوادوال د نېکمرغۍ لپاره يې په نثر ليکلو او شعر ويلو ډېرې شپې ويښې تېرې کړې دي.
اروابنــاد اســتاذ خپل علمي او ادبي سفر په ۱۳۱۴ هـ. ش کال له انيس ورځپاڼې څخه پيل کړ. د پښتو ټولنې له ايجادونکو او مخکښانو څخه و. په ۱۳۱۵ هـ. ش کال د پښــتو ټولنې د تأليف او ترجمې غړی و. په ۱۳۱۸ هـ.ش د صحافت مديريت ور په غاړه شــو او يو کال وروســته د يادې ټولنې د لغاتو او قواعدو مدير شــو. په ۱۳۲۰ هـ. ش کې په اصلاح ورځپاڼه کې د پښــتو د مشاور په حيث وټاکل شو.
اســتاذ د ادب او سياســت اتل و، چې پــه ۱۳۲۸ هـ ش له جلال اباده ولســي جرګې ته نومانــد او د ټاکنو په ترڅ کې بريالی او د جرګې دويم مرســتيال تعين شو. په ۱۳۳۱ هـ.ش کې بيا له قرغيو څخه ولسي جرګې ته وکيل منتخب شو او د ننګرهار د قبايلو چارو دنده يې هم پر مخ ورړلــه. او په ۱۳۳۴ هـ.ش کې يو ځــل بيا د جلال اباد د خلکو له خوا د ولسي جرګې غړی شو.
ادبپوه او سياستوال اســتاذ په ۱۳۴۲ هـ.ش کې د پښتو ټولنې رئيس شو چې اووه کاله يې هغه دنده پر مخ بوتله. همداراز په ۱۳۴۳ هـ.ش. کې د ډاکټر محمد يوســف په کابينه کې د قبايلو رياســت رئيس تعين شو، چې خپلې ورسپارل شوې چارې يې په ښه ډول ترسره کړې.
د پښتو ادب د هسک ستوري‌ځلانده (اُلفت) د ۱۹۷۷م د دســمبر په ۱۹ مــه له فاني نړۍ ســترګې پټې کړې. په عزيزخان کڅ کې د کابل ــ جلال اباد عمومي ســړک په غاړه، جنوبي لور ته خاورو ته سپارل شوی، چې مزار يې سرک ته نږدې دی. د ادب هر مينه وال چې پرې تيرېږي، نو دعا ورته کوي.
استاذ د پښتو ادب له پينځو ستوريو څخه يو ستوری دی، چې خورا ډېر اثار ترې پاتې دي.

# رسول الله«ص» له کومو شيانو پناه غوښتې ده؟

**حسان مجاهد**

رسول الله ﷺ له ډېرو داسې شيانو څخه پناه او نجات غوښتی دی چې نن موږ هيڅ علم پرې نه لرو او په پټو سترګو پکې راګير يو.
له دغه بلاوو څخه درسول الله ﷺ دپناه غوښتنې دوه لاملــه کيــدای شي: لومړی دا چې انســان ددغه شــيانو زغم او دفاع نه شي کولای تر څو چــې د الله تعالی نصرت نــه وي. دوهم داچې رســول الله ﷺ خو له دې بلاوو ژغورل شــوی و، مګر امت ته په دې کې تعليم دی چې بايد له دغه شيانو پناه وغواړي.
له کومو شيانو رسول الله ﷺ پنا غوښتې ده؟
۱- لــه بخل څخه ۲- له بې زړه توب څخه ۳- له بی وســۍ څخه۴- له غفلت څخه ۵-د جهنم له اورڅخه۶-د قبر له عذابه څخه.۷- له سوســتي څخه ۸- له زيــات بوډاتوب څخه ۹- ددجال له فتنــې څخه ۱۰-دژوند او مرګ لــه فتنې ۱۱-له پــور څخه۱۲-له بد ملګري څخــه.۱۳- له غم څخه.۱۴- د شــتمنۍ له شر څخه.۱۵- د فقر له شر څخــه۱۶- له پټو او ښــکاره فتنو څخه ۱۷- لــه بدې پايلې ۱۸- ددښــمنانو له خوشــحالتيا څخــه۱۹- له بې ګټې علم څخــه ۲۰- له وږې نفس څخــه ۲۱- له داســې زړه څخه چې ويره نه لري ۲۲- له داســې دعا څخه چې نه قبلېږي ۲۳- د نعمــت لــه زواله- ۲۴دعافيــت له زواله ۲۵- دسترګو، غوږو، ژبې او شرمګا له شر څخه ۲۶- لــه ليونتوب څخه ۲۷- لــه پيس، جذام او نورو ناوړه مرضونو څخه ۲۸- دسوزيدو له مرګه ۲۹- دغرقيــدو له مرګه ۳۰- دزهرو له مرګه۳۱- دجهــاد په لاره کې د تيښــتې له مرګه ۳۲- له بد اخلاقي څخــه ۳۳- دلوږې څخه ۳۴- له خيانته څخــه ۳۵- دمظلوم له ښــيرا څخــه ۳۶- له بد اخلاقه ميرمنــې څخه.۳۷- لــه ناصالح اولاده ۳۸- له ناڅاپي مرګه ۳۹- دنفس او شــيطان له شر څخه. ۴۰- له کفر، شرک او نفاق څخه.
سپارښتنه! هر مؤمن او مؤمنه بايد له دغو شيانو څخه ســهار او ماښام په الله تعالی پناه وغواړي تــر څو ددنيــا او آخرت له فتنــو وژغورل شي. ممکن په دعا کې پورتني ټول شــيان يادول ګران کار دی؛ ځکه نو بايد داســې دعا وشي « يا الله! هغه څه غواړم چې رســول اللــه ﷺ له تا څخه غوښتي دي او له هغه څه مې وساته چې رسول اللــه ﷺ په تا باندې له هغه څخه پناه غوښــتې ده. په دغه الفاظو دعا هم رانقل شوې ده [مسند احمد او ابن ماجه]

# شيطان ته ښيرا مکوئ بسم الله ووایاست

**مولوي نورالحق مظهري**

ژباړه: ابــي المليح د خپل پــلار څخه روايت کوي چي زه د رســول الله صلي الله عليه وســلم شــا ته ســپور وم چي زموږ اوښ ولخښېدی او غوځار سو، ما ويل: شــيطان دي هلاک سي، رســول الله صلی الله عليه وســلم وفرمايل: داسي مه وايه چي شيطان دي هلاک ســي ځکه پــدې باندي شــيطان دومره غټېــږي لکه کور او وايــي: دا کار زما په زور باندي ســوی دی، بلکي داسي ووايه (بســم الله) په نامه د الله، نو شــيطان به دومره کوچنی سي لکه مچ.
يعني چي کله د يو مشــکل ســره مخامــخ کيږی نو داســي مه وواياســت چي شــيطان دي هلاک سي يا شــيطانه کور دي خراب سه؛ ځکه پدې خبره شيطان ته ځان غټ معلومېږي او داســي فکر کوي چي دغه مشــکل ده تاســي ته جوړ کړی دی بلکي د مشکل د پيښــېدلو وروســته د اللــه تعالی نــوم واخلئ تر څو شــيطان و رټل ســي ځکه د الله تعالی د نامه د اخيستلو ســره شيطان دومره کوچينی کيږي لکه مچ.
يادونه: په ځينو خلکو کي داســي اصطلاح وي چي کله په نيکيو يا پــه صحت باندي د يو چا نوم يادوي نو وايي: د شيطان غوږونه دي کاڼه وي، يا چي کله د يوې ســتونزي سره مخامخ سي نو وايي: شيطانه کور دي خراب ســه. دا ټولي اصطلاحګاني د اســلامي عقيدې خلاف دي موږ بايد ځان ورڅخه وساتو.
عَنْ أَبِــي الْمَلِيحِ، عَنْ أَبِيهِ، قَالَ: كُنْتُ رَدِيفَ رَسُــولِ اللــهِ صَلَّى اللَّــهُ عَلَيْهِ وَسَــلَّمَ، فَعَثَرَ بَعِيرُنَــا فَقُلْتُ: تَعِسَ الشَّــيْطَانُ، فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَــلَّمَ: لاَ تَقُلْ: تَعِسَ الشَّــيْطَانُ، فَإِنَّهُ يَعْظُمُ حَتَّى يَصِيرَ مِثْلَ الْبَيْــتِ وَيَقُولُ: بِقُوَّتِــي، وَلَكِنْ قُلْ: بِاسْــمِ اللهِ، فَإِنَّهُ يَصْغُرُ حَتَّــى يَصِيرَ مِثْــلَ الذُّبَابِ.[الســنن الكبري للبيهقي۱۰۳۱۳]

# د اولاد روزنې ۱۲۹ مشورې

**د. أحمد بن عثمان المزيد+د. عادل بن علي الشدي / ژباړه: عبدالعزيز ابوبکر / څلورمه برخه**

۵۴:- د اولاد پــه خــبرو او کارو ملنــډې مــه وهــه.
۵۵:- اولاد تــه د مبارکــۍ، هــرکلي او دوســتۍ تــکي ور زده کــړه.
۵۶:- اولاد ډېر مه نازوه.
۵۷:- يــو کار تــه پــه هڅولــو کــې پــه مــادي لالــچ اولاد مــه أموختــه کــوه، ځکــه د مادياتــو پــر وړانــدې د هغــه شــخصيت کمزوری کــوي.
۵۸:- اولاد خپــل د لومــړۍ رتبــې ملګــری وګرځــوه.
فزيکي جوړښت:
۵۹:- اولاد تــه د لوبــو لپاره ښــه انــدازه وخــت ورکــړه.
۶۰:- اولاد ته ګټورې لوبې برابرې کړه.
۶۱:- پــرې يــې ږده چــې ځينــې لوبــې خپلــه خوښــې کــړي.
۶۲:- اولاد تــه لامبــو وهــل، منــډه وهــل او ځينــې د ځواکمنــۍ لوبــې ور زده کــړه.
۶۳:- پــه ځينــې لوبــو کــې کلــه ناکلــه اولاد پــر ځــان مخکــې او بريالــی کــوه.
۶۴:- اولاد ته مناسب خواړه برابر کړه.
۶۵:- د اولاد د خوراك وختونه منظم ساته.
۶۶:- اولاد د خــوړو پــه رانيولــو کــې لــه زيادتــه لــرې ساته.
۶۷۹:- اولاد سره د خــوړو رانېولــو د وخــت پــه تېروتنــو حســاب مــه کــوه.
۷۸:- اولاد تــه هغــه خــواړه برابــر کــړه چــې هغــه يــې هــر وخــت شــوق لــري.
روحي/رواني جوړښت:
۶۹:- اولاد تــه ښــه غــوږ نيســه او هــرې خبرې تــه يــې پــوره پاملرنــه ساته.
۷۰:- اولاد داسي أموختــه کــړه چــې پــه خپلــه د ستونزو مقابلــه کــوي، خــو د ده پــه ناپامــۍ کــې ورسره همــکاري کــولای شــې.
۷۱:- کــوم وخــت چــې دې اولاد يــو ښــه کار تــرسره کــړي، نــو درنښــت او مننــه يــې وکــړه.
۷۲:- اولاد لــوړې او ســوګند کولــو تــه مــه اړ کــوه، بلکــې (چــې هغــه يــې کــوي هــم) ورتــه وايــه لــه لــوړې او ســوګند پرتــه مــې ستا خبره زړه تــه لويــږي.
۷۳:- د ګواښونو او ترټنې له ټکو ځان ساته.
۷۴:- اولاد تــه دا احســاس ورکــوه چــې يــا يــې شــخصيت ښــه نــه دی او يــا ناپــوه دی پــر څــه نــه پوهېــږي.
۷۵:- د اولاد لــه ډېــرو پوښــتنو مــه تنګېــږه او هڅــه وکــړه چــې ټولــو پوښــتنو تــه يــې اسانه او د بــاور وړ ځوابونــه ورکــړې.
۷۶:- اولاد پــه سينه پــورې ونيســه او د خپلــې مينــې او شــفقت احســاس ورکــړه.
۷۷:- لــه اولاد سره پــه ځينــې کارو کــې مشــوره وکــړه او بيا يــې پــه مشــوره عمــل هــم وکــړه.
۷۸:- اولاد تــه د دې احساس ورکــړه چــې تــر يــو حــده لــه نــورو سره د معاملــو واك لــري.
پاتې لري...

# اوس څه په کار دي!؟

لیکنه: راشد عظمت / وروستی برخه

هو! جهادي مشرانو یو غوره نظام او حکومت جوړ نشو کړای او د پېښور د څمکنیو دارالایتام کې چې کومه نسخه ورته لیکل شوې وه، د هغه عملي کول یې پیل کړل، نو هغه د پلي کېدا وړ نه وه؛ ځکه خو خپلمنځي جګړې پیل شوې. نو په نتیجه کې هسې کړنې ترسره شوې چې مقدوني سکندر، چنګیز، ګوډ تېمور، انګرېز او شورویانو نه وې ترسره کړې. ولې د مجاهدینو په (دولت اسلامي افغانستان) کې کلي په کلي، کوڅه په کوڅه پاټکونه واچول شول، د هر افغان سر و مال، عزت او ناموس په خطر کې ولوېده. له ښځو سینې پرې شوې، د مړیو نڅاوې ترسره شوې، مېخونه د انسانانو په سرونو کې ټکوهل شول او له ۷۰ کلنو سپینږیرو سره بدکاري وشوه. د مسلمانو خویندو عزتونو لوټ شول، په هلکانو نکاح ګانې وتړل شوې. نو لوی رب جل جلاله بیا هم رحم وکړ او د طالبانو اسلامي غورځنګ یې راپیدا کړ چې هغو په فتوحاتو پیل وکړ او ان د هېواد پلازمېنه یې تر ګوتو کړه. اسلامي شریعت یې نافذ او سرتاسري امنیت یې ټینګ کړ، نو د ګاونډیانواو د ختیځ او لویدیځ، لرې و نزدې دښمنانو په ګډه کې دردونه پیل شول او د افغانستان د اسلامي امارت خلاف یې په دسیسو لاسونه پورې کړل.

هو! امریکا او یهودو د امریکا د سوداګریزو برجونو د رنګولو او نړولو ډارمه جوړه کړه، چې بیا یې د هغه د رنګولو دعوی پر القاعده وکړه او پر افغانستان باندې د یرغل پلمه یې ترتیب کړه (۴۸) هېوادونو زمونږ پر ټاټوبي حمله وکړه، (دولت اسلامي افغانستان) هم د غټو غټو بمونو اچولو (کارولو) غوښتنه ترې وکړه. خپل لنډغر یې د صلیبیانو خدمت ته وقف کړل او هغو هم د ابورغال دنده ترسره کړه (ابورغال هغه کس و چې ابرهه یې د مکې لاره ګودر وښود)

صلیبیانو شل کاله افغانستان اشغال کړی و، هغه ظلمونه یې وکړل، چې د نړۍ په تاریخ کې هیچا هم نه و کړي، خو د دوی په مقابل کې د نازو انا او زرغونې انا زامن هم ارام کېناستل، جهاد یې پیل کړ او د ۲۰۲۱ز کال د اګسټ په (۱۵) یې د صلیبیانو ملا ورماته کړه، د هغو ګوډاګیان وتښتېدل، د اسلامي امارت مجاهدین کابل ته ننوتل او د هماغه کال د اګسټ په (۳۱مه) ټول صلیبیان خرې سترګې، ټیټ سرونه له افغانستانه لاړل.

د ښکېلاکګرو او د هغوی د ګوډاګیانو له پرځېدا سره سم اسلامي امارت په ګران هېواد کې د چارو د سمښت لپاره کابینه جوړه کړه. له هر قوم او قبیل څخه یې وزیران، معینان او نور لوړ پوړي اشخاص پکې شامل کړل. همداشان ولایاتو ته یې والیان او ولسوالیو ته یې ولسوالان واستول. او په اکثرو ادارو کې ټاکنې او ګومارنې وشوې، نظام او سیستم روان شو.

نږدې یو نیم کال کیږي چې اسلامي امارت له صلیبي اشغالګرو څخه واک ترلاسه کړی، ټولې چارې په منظم ډول په لوړ کیفیت او کمیت سره روانې دي چې د چارو تنظیم سمښت او سمبالښت لا ګړندی او چټک شي او د (۴۴) کلنو جګړو ځپلی ملت هوسا، سوکاله، خوښ او خوشحاله شي، نو څه په کار دي؟

په ټولو ادارو کې مخلص، ځمن او کارپوه کسان په دندو ګومارل لازم دي. حضرت خالد بن ولید رضی الله عنه او حضرت عمرو بن عاص رضی الله عنه د حدیبې له سولې وروسته ایمان راوړ، اما د جنګ، جګړې په اصولو ښه پوهېدل، نو امیرالمؤمنین ابوبکر صدیق اوعمر بن خطاب رضی الله عنهما د غزاګانو امیران وټاکل، سره له دې چې ستر ستر اصحاب رضی الله عنهم موجود وو.

د افغان ولس د بهبود لپاره سوداګریز نظام په نویو عصري اصولو او اساساتو سره سمبالول او تنظیمول په کار دي، خپل هېوادني تولیدات او محصولات باید په ښه ډول بهرنیو هېوادونو ته صادر کړل شي.

همدارنګه سوداګر د اړتیاوو مطابق توکي له خارجه را وارد کړي، اسلامي امارت باید د دواړو (صادراتو او وارداتو) لپاره اسانتیاوې برابرې کړي.

اسلامي امارت ته لازمه ده چې د هېواد د هر ډول معدنونو د استخراج لپاره هلې ځلې وکړي او معدني توکي د ولس د ښېګڼې په موخه ولګوي. په ګران هېواد کې د ډېرو سکرو په لسګونو کانونه دي، باید استخراج شي. زمونږ برېښنا (برق) وارداتي دی، چې کله کله پرچاوېږي، که د ډېرو سکرو څخه خپله برېښنا جوړه کړو، نو ټولې ګټې به مو خپلې وي. بې ځایه به په میلیونونو ډالر زمونږ له هېواده پردیو هېوادونو ته نه ځي.

د خپل ولس لپاره د اوبخور او کرکیلي سیستم په عصري اصولو تنظیمول په کار دي، څو له لږ زمکې څخه ډېر حاصل ترلاسه کړو. هغه سیندونه چې بې ځایه بهیږي، باید پر هغو باندې ستر ستر نهرونه جوړ شي، چې په لکونو جریبه زمکې خړوبې کړي، لکه څنګه چې د ننګرهار کانال ډېری مځکې اوبه کوي او په راتلونکي کې به د قوشتېپې کانال زمونږ مځکې زرغونې کړي. همداشان لازمه ده چې بزګرانو او بڼوالو ته سرې خونې جوړې کړل شي.

**د غنمو وړی خول، وي ټومبه د ده په سر کې مشرانو پرې امین کړل، څه چې وو په دې محضر کې**

اسلامي امارت ته په کار ده چې د ښوونې او روزنې، تعلیم او تحصیل لپاره خورا زیات جد و جهد وکړي. تر ټولو مخکې یو نصاب جوړ کړي، د مدرسو او ښوونځیو درسي نصاب یو وي. د دواړو (مدرسو او مکتبونو) ترمنځ توپیر ختم کړي. همداشان د جینکیو لپاره له شپږ ټولګي پورته ځانګړی درسي نصاب تدوین شي، اضافي مواد (مضامین) ترې وغورځول شي.

**که بې تورې ژوند مشکل وي، بې پوهنې وجود نشته**
**که وجود وي هم بېکاره، پکې یوه ذره سود نشته**

اسلامي امارت باید پوه، ځمن، غښتلی پوځ (اردو) ولري. د پوهې لپاره یې دخصوصي نظامي ښوونځیو ایجاد اړین دی چې دیني زده کړې هم پکې وي او نظامي او عصري تعلیم هم ولري. د ځمنتیا لپاره یې دا لازم دي چې هره هغه مجاهد (عسکر) چې په پوځ کې شاملیږي، باید څو ځایه یې تضمین وشي او بیا د نظامي اصولو مطابق شامل او عسکر شي. غیرمتعهد پوځ کله هم له نظامه دفاع نه ده کړې. د ظاهرشاه پاچاهي د اوردو په مرسته سردار محمد داؤد خان راچپه کړه او د ده جمهوري نظام هم د اوردو پر مټ نسکور شو. او په ټوله کمونیستي دوره کې اجیرې اوردو د پردیو لپاره کار کړی او د صلیبیانو د اشغال پر مهال چې هغوی کومه اوردو جوړه کړې وه، هغه هم مزدوره وه. په درواغو به یې د (خدای، هېواد، دنده) دعوا کوله، له یوه یې هم دفاع و نه کړه. برعکس، له خدای نه یې بغاوت کاو، هېواد یې ورانـاو او دنده یې د صلیبیانو لپاره ترسره کوله.

د افغانستان اسلامي امارت باید په هېواد کې د اوردو لپاره د وسلو او نورو تجهیزاتو لپاره کارځایونه جوړ کړي؛ ځکه د اسلام سپېڅلي دین د جهاد لپاره د وسلو او تجهیزاتو د چمتو کولو امر کوي. د الله جل جلاله نازولي رسول صلی الله علیه وسلم چې له نړۍ څخه رحلت کاو، نو په کور کې یې نږدې یو درجن تورې پرېښودلې، کوم درهم او دینار ترې پاتې نشو. (صلی الله علیه وسلم علی سیدالمجاهدین والغزاة).

اسلامي امارت ته لازمه ده چې د هېواد لوی شتمن، پانګه روال او سوداګر د کارخانو او فابریکو جوړولو ته وهڅوي، اسانتیاوې ورته برابرې کړي، څو ډېری اړین توکي مو په خپل ټاټوبي کې جوړ او تولید شي.

د سړکونو او لویو لارو جوړول او رغول؛ دا د اسلامي امارت دنده ده چې د هېوادوالو د اسانتیا لپاره یې ترسره کړه.

اسلامي امارت د سوالګرو او ګداګرو لپاره ځانګړي اقدامات وکړل، څو د دوی تفکیک وشي، چې کومې یو یې ریښتیا هم بې وزله دی او کوم حرفوي دی. همداراز څو ځله یې د نشه یانو په اړه ګامونه واخیستل، نو له دې دواړو ډلو څخه د هېواد خوندي کېدا لپاره لازم او اړین ګامونه اخیستل په کار دي.

په هېواد دننه نورډېر مشکلات شته باید دحل لپاره یې کوټلي اقدامات وشي.

# د شرعي حدودو ارزښت

مولوي نورالحق مظهري

کوم شرعي حدود چې الله تعالی د مجرمینو لپاره ایښي دي په هغو کې ډېر حکمتونه او ګټې نغښتل سویدي، دا معلومه خبره ده چې انسان باید په مځکه کې عدل قائم او ظلم ختم کړي چې ددې لپاره کار تر ټولو مهمه نسخه د اسلامي حاکمیت وروسته د حدود جاري کول دي او د مځکې آبادي هغه وخت پوره ممکنه وي چې د جرمونو د مخنیوي په موخه شرعي حدود عملي سي.

ددې تر څنګ چې د شرعي حدودو اجراء الهي امر دی په فردي او ټولنیز ژوند کې ډېرې ګټې او فایدې لري:

۱ - د شرعي حدودو په جاري کولو سره د مځکې له مخه په هره برخه کې فساد ورک کیږي ځکه د قصاص له ویرې انسان وژنه بندیږي، د لاس پرې کولو له ویرې غلا ورکه کیږي، د رجم او درو وهلو له ویرې ټول اخلاقي فسادونه لکه زنا او لواطت ختمیږي، د شرابو څښلو د حد په جاري کولو سره خلک د شرابو د څښلو څخه لاس اخلي چې په نتیجه کې د ډېرو جرمونو مخه نیول کیږي، د قذف د حد په جاري کولو سره د مسلمانانو په مینځ کې د اتهام او تهمت دروازه تړل کیږي چې په نتیجه کې ټولنه د لانجو او اختلافاتو څخه خوندي کیږي؛ الله جل جلاله فرمایي: ژباړه: په قصاص کې ستاسو لپاره ژوند دی ای د عقلونو خاوندانو ددې لپاره چې تاسې ځانونه وساتی. [ البقرة ۱۷۹]

۲ - د شرعي حدودو په جاري کولو سره د ظلم او تیري مخه نیول کیږي ځکه هیڅوک بیا د مسلمان پر ځان، مال او ناموس باندې د تیري جرئت نسي کولای او ټول ظالمان د ځان د مجازات له ویرې د ظلم څخه لاس اخلي چې د سوره بقره د ۱۷۹ آیت د آخر څخه همداسې ښکاري چې: د قصاص په عملي کولو سره به تاسې د بل چا د وژلو څخه ځانونه وساتی.

۳ - پدې خاطر چې د حدودو جاري کول عدالت تحکیموي ځکه نو د حدودو جاري کول د رحمتونو او برکتونو د نزول سبب جوړیږي د یهودو او نصارا وو په باره کې الله تعالی فرمایي: ژباړه: که دوی تورات او انجیل او هغه څه چې دوی ته د رب له لوري راغلي دي عملي کړي وای نو دوی به د خپل له پاسه نه( د آسمان لخوا) او د خپلو پښو لاندې (د مځکې څخه) خوراک کړی وای. یعني دوی ته به له هري خوا څخه برکتونه ورکول سوي وای. [امائده ۶۶]

په حدیث شریف کې راځي: عَنِ ابْنِ عُمَرَ، أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: إِقَامَةُ حَدٍّ مِنْ حُدُودِ اللهِ، خَيْرٌ مِنْ مَطَرِ أَرْبَعِينَ لَيْلَةً فِي بِلاَدِ اللهِ عَزَّ وَجَلَّ.[سنن ابن ماجة۲۵۳۷]ژباړه: د عبدالله ابن عمر رضي الله عنه څخه روایت چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: د الله تعالی د حدودو څخه د یوه حد جاري کول د الله تعالی په ښارونو کې د څلویښتو شپو تر باران بهتره دی.

پدې خاطر چې حدود ډېر مهم دي په حدیث کې راځي:

قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: أَقِيمُوا حُدُودَ اللهِ فِي الْقَرِيبِ وَالْبَعِيدِ، وَلاَ تَأْخُذْكُمْ فِي اللهِ لَوْمَةُ لاَئِمٍ.[سنن ابن ماجة۲۵۴۰]ژباړه: رسول الله صلي الله علیه وسلم فرمایلي دي: د الله حدود په نږدې او لیري کې جاري کړئ او د الله په باره کې دې د هیڅ ملامت کوونکي ملامتیا تاسې نه نیسي.

نو د شرعي حدودو جاري کول د انساني ټولنې اړتیا ده، که شرعي حدود جاري نسي ددې تر څنګ چې مځکه به له فساده ډکه سي بلکې د انسانانو شخصي او اجتماعي ژوند به د ډېرو سختو ننګونو سره مخ سي او په هره برخه کې به نظم له مینځ ولاړ سي.

موږ باید پدې ډېر خوشحال وسو چې اسلامي نظام راغلی او د شرعي حدودو قائمول پیل سویدي ځکه د شرعي حدودو په جاري کولو کې زموږ خپله ګټه ده له همدې امله باید موږ د اسلامي نظام سره د شرعي حدودو په جاري کولو کې مرسته وکړو او نه تنها دا چې د کفارو او پردیو پر تبلیغاتو غوږ ونه نیسو بلکې د هغوی په وړاندې د خپل اسلامي نظام څخه هراړخیزه دفاع وکړو.

# چیلک انداز

- اوچا یا دفتر هماهنگی کمک‌های بشردوستانه م .م:
شش میلیون نفر در افغانستان در معرض قحطی شدید قرار دارند .
- چیلک انداز:
و پولهای نقد و ذخایر بانکی این مردم را رهروان دموکرات همین به اصطلاح کشورهای بشردوست دزدیدند و به همین کشورها فرار کردند!
- سازمان ملل:
جمهوری اسلامی ایران قصد دارد صدها موشک و پهپاد به روسیه بفروشد .
- چیلک انداز:
«بازار آزاد « و « آزادی بیان « دموکراسی خو اینمیطور گپها ره هم دارن دیگه !
- سرور دانش: باید افغان خوانده شدن سایر اقوام به بحث گرفته شود .
- ای سرور ناخرابات!
دیروز خو از خاطر پول و چوکی ، خود را پخته احمدزی جور کرده بودی و حالا ... !!؟؟
زلنسکی، رئیس جمهور اوکراین از سوی مجله تایمز به عنوان شخصیت سال انتخاب شد.
- چیلک انداز:
یک غایت حامد کرزی و اشرف غنی هم همینطور
« نوازش» میشدند ، اما در اخیر ، اولیشه قاچاقبر گفت و دومیشه هم گریزی و بزدل و دزد ... !!
عاقبت زلنسکی هم به خیر !!!
- امریکا تاجر نزدیک به اردوغان را به اتهام فروش نفتی و پولشویی به سپاه پاسداران ، تحریم کرد .
- چیلک انداز:
یعنی که ترکها حق ندارند بدون اجازه امریکا همراه کسی برادر خوانده گی و خواهر خوانده گی کنند ؟؟؟؟!!!!
- زلنسکی:
شهر باخموت اوکراین به ویرانه سوخته مبدل شده است .
- چیلک انداز:
[[ نصیب دې شول دردونه چې زما دې نه منل
اوس مه مروړه لاسونه چې زما دې نه منل ]]
اخبار فوری افغانستان:
تصاویری را که آریانا نیوز به نام تونل سالنگ نشر کرده بود ، مربوط به کردستان است.
- چیلک انداز:
به ، به !
اینه به خیر ژورنالیزم نوین آریانایی !
کردستان را به جای سالنگ می درنگانه !!!
- یک داماد پاکستانی در روز عروسی خود یک خر کوچک را به عروس هدیه داد .
- چیلک انداز:
خیلی خوب !
چون خر در بشردوستی بی جوره است ،
و با دشمن خود هم نیت دشمنی ندارد !
د برېښنا شرکت:
د کابل په ګډون به د یوولسو نورو ولایتونو برېښنا دوه ساعته د ورځې او دوه ساعته د شپې لخوا وي.
چیلک انداز :
غم به یې نه کوئ !
موږ به هم نر غونډې هاغه خپل زنګ وهلي لکینونه او شیطان چراغونه بیا را وباسو !!!
په درناوي !!!
- بی. بی سی:
خانم اوا کایلی، معاون رئیس پارلمان اروپا در پی رسوایی مالی ( رشوت ) موسوم به «قطر گیت» برکنار شد.
- چیلک انداز:
یعنی که قطریها، اتحادیه اروپا را به اصطلاح « دوپه « کرده اند !!!

## شعر و ادب

## صد گرسنه سیر از انگور ما

**محمدصادق طارق**

مـرده بودیـم آب حیـوان ناپـدیـد
راز قـرآن در دل مـا شد جـدیـد
دل ز او عـزت ز او آئـیـن ز او
بـال ز او پـرواز ز او شـاهین ز او
پستهـا در زیـر سایـه سـربلـند
خــاک را از زر نـمایـد ارجـمـند
بـرق علم چون در سحاب ما رمید
رعـد و نـورش کـوه سینا را خـریـد
علـم حـق سرمـایهٔ دیریـن مـا
صد جهان است مستتر در حین ما
شعله‌اش چون شمع پر نور و ضیا
می‌زند بر کـاه جهـل از خـود هبا
محـفل علـم و عـلوم افـروختیـم
از نـوای صـوت حـق انـدوختیـم
صـد گـرسـنه سـیر از انگـور مـا
بوی خـوش انـدر جهـان کافور ما
طب اگـر دانـی ز مـا تقـلید شـده
لیک کنون بر ما چـرا تـنقید شـده؟
در ضـمیر مـا نـواهـا شد بلنـد
قــوم‌هـا را راه بـیـرون از کمـنـد
مـدتی با لاله رویـان سـوختـیم
سینه را با تـار عـلمش دوخـتیم
رشتهٔ مـا رشـتهٔ انجم بُدست
راه از پیمــودن مـا گـم بُدسـت
راه مـا انـدر خـیال مـا چنـین
دیر چنان بُدست و حـال ما چنین!
حیف آید طـارقـا از این روزگـار
روز بـه روز از قـافله آئیم کنـار

## آزادی

**استاد گل پاچا الفت**


به تن برهنه و عـریان خوشم، نیم پیله
که بی خبر به اسیری روم به بند حریر
